زمکه ځما ده آسمان ځما دے
که ته ځما ئے جهان ځما دے

دَ اللّٰهُ مِینه

لیکونکے:

نورالامین (آمین) اخونزاده

ایڈوکیٹ ڈسٹرکٹ کورٹس مردان
مستقل پته: محله بابی خیل اسماعیله ضلع صوابی

دَ کتاب حاصلولو یا رابطے دَ پاره:
0300-5738133

سٹی سکرین پرنٹر اینڈ پرنٹنگ پریس
نور خان مارکیٹ نیواډه مردان فون: 0937-864188

دخپلو لوستونکو په خدمت کښې څو سطرونه لیکم. څما دا کتاب د لوستو نه پس تاسو خپل تأثرات ماته یه لاندېنئی پته رالیږلے شئ.

نورالامین ایډوکیټ مردان

مستقل پته. محله بابی خیل اسماعیله ضلع صوابی

دا څما رومبے کتاب دے. لهٰذا که څه غلطئی پکښې وی نو د هغے معزرت کوم. او په پورتنئے پته رابطه اوساتئی. چه دد اسے غلطئی امکان آئنده پاتے نه شی.

انشاء الله څما کوشش دے چه د خپلو لوستونکو د پاره بل کتاب چاپ کوم دبل کتاب نوم "اسلامی انقلاب" دے اُمید لرم چه په خپلو دعاګانو کښې به مې نه هېروئے.

په ډېرو دُعاګانو سره ستاسو خوږ ورور

نورالامین آمین اخونزاده

دیباچه

د محترم نور الامين صيب د شاعرۍ دلوستلو نه پس ماته معلومه شوه چې هغه د حقوق اللّه سره سره حقوق العباد هم کوی۔ په شاعرۍ ئی زيات ترمذ هي رنګ غالب دے۔

د غسې د دے پښتون شاعر شاعری د خوند اونصيحت هغه خوږې خبرې دی ۔ چې په لوستلوپا اورېدوسره په زړه او ذ هن بوج نه غورزوی۔ بلکې سکون ورته وربخښی او د تورو تيارونه پې رڼړ اپله ببائی۔

په درناوی
غمګين معيارؔ

علی حيدر جوشی (مرحوم)معزز انسان او ښه شاعر د (اسماعيله) کلی اوسېدونکې او د اسماعيله نوم روښانه کونکې وو او ښه اُستاد او ښه شاعروو۔ مېلمه دوست وو۔ او څه فخر کوم چه څما د نېکه شاګرد هم وو۔ د اللّه تعالٰی نه دُعا ده چه اللّه تعالٰی دې د هغوی جنّت الفردوس نصيب کړی آمين

شفیق ځلمے یو ښه اُستاد

شفیق ځلمے د اسماعیله کلی اوسیدونکے دے۔ یو ښه شاعر او ښه اُستاد دے ۔ تیچنګ لائن سره ئے تعلق دے۔ ددوی د اِسلام د پاره قربانئے د هیرېدو نه دی۔ دوی د اِسلام ډیر خدمت کوی ددے نه علاوه دشفیق صاحب ډیر شاګرد ان دی چه په مختلفو شعبو د اِسلام خدمت کوی۔

شفیق صاحب همیشه د حق او د صداقت جنګ کړے دے ځما دُعا ده چه اللّٰه تعالٰی دې د شفیق صاحب په عمر کښې برکت واچوی۔
آمین

غمګین مایار یو ښه شاعر

یو مخنتی اِنسان او ښه شاعر غمګین مایار هم دے۔ ځماپه رهنمائے کښې د غمګین مایار ډیره حصه ده دوی د مایار ضلع مردان اوسیدونکی دی۔ یو ښه لیکوال دے او ځما اُستاد هم دے۔ دوی دقوم همیشه خدمت کړے دے۔ او په مختلفو وختونو کښې ئے دقوم د شاعرۍ په ذریعه رهنمائی کړے ده۔
ځما دُعا ده چه اللّٰه تعالٰی دې ددوی په عمر کښې برکت واچوی۔
آمین

حمد

لویه ربه نور د زمکې د آسمان ئې
ته عالم ربه په کون هم په مکان ئې
قدرتونه د هر څیز کښې نمایان دی
ستا صفت دے چه کارساز د کل جهان ئې
دا ارض و سموٰت دې ټول تابع دی
ته مالك د وره ولو د باران ئې
نعمتونه دې بسیار دی شمیر ئې نشته
ته د واړه مخلوقات روزی رسان ئې
اے کریمه د کرم دې څه حد نشته
وسعت کښې مهربانه په اِنسان ئې
تا د ګتې نه ده اوبه پیدا کړې
وسعت کښې مهربانه په اِنسان ئې
هم دغه سمندر ورته عذاب شو
حقیقت کښې ته قهار په نافرمان ئې
شپې او ورځې اوږدوې او لنډوې ته
ته بادشاه د صفتونو په لوئے شان ئې
د خوږو اوبو نهرونه دې کرم دے
په تازه تازه هوا ته حکمران ئې
نافرمانو له دوزخ دې تیار کړے
مومنین له په وعده د جنّتان ئې
خوږ ملګرے په دنیا په آخرت ئې
په صفت کښې ته رحیم کریم رحمان ئې

عقلمند دې په رضا پسې تلاش كه
په خپل كرم ته مئېن په مسلمان ئې
فضيلت دې لوې وركړې دې اُمت ته
په خپل كرم كښې بې شانه عاليشان ئې
لويه خدايا سوال كوم د محبت ستا
په دعا مې ته خبر په هر زمان ئې
د اِنعامونو حد دې نشته دې وهابه
تجربان ته په جنّت كښې د عېنان ئې
تا دى حورې پېدا كړې بې حسابه
ته خالق ئې ته مالك ئې ته منّان ئې
تعريفونه دې بې شمار دى ذوالجلاله
حقيقت دې لويه ربه چه سُبحان ئې
څه آمينؔ ستا د لوې كرم طلبگار يم
ته په اصل كښې بخښونكې مهربان ئې



نعت

په نبیانو اولین هم آخرین دے
هم صفت کښے رحمت للعٰلمین دے
تعریفونه په قرآن ئے الله کړی
ډیر مئین په انسانانو مرسلین دے
کائنات د ده له مخه تول پیدا دی
په لقب کښں دے صادق او هم امین دے
دی کذاب چه دعوی د نبوّت که
رب ستائیلے په خاتم د نبیین دے
چه تیرے د کفر ختمې په جهان شوے
په رښتیا ځکه رحمت د عالمین دے
په همهٔ انسانانو کښں بهتر دے
چه ورکړے ورته رب دین متین دے
حد د صبروکرم د نبیؐ نشته
د طائف په ظالمانو صابرین دے
ډیرعزت اوکامیابی ئے ده سیرت کښں
د نجات په بشارت د مومنین دے
په فیضان د مصطفٰی به لا څه وائے
سعادت ئے حاصل کړے صالحین دے
په رڼا باندې روښانه ټول عالم شو
چه بریښنا د دے جهان آفرین دے
چه خوارهٔ خوارهٔ ملګری ورسره وو
خوږ ملګرے د انصار مهاجرین دے

نمر سپوږمئی او آسمانونه ئے تابع دی
چه مطبع د ذوالجلال په پوخ یقین دے
په نبیانو کښ ئے لویه مرتبه ده
چه شفیع هم په قیامت د مسلمین دے
دے په مونږه ډیر مئین د مور او پلاره
دا شفیع هم ډیر مئین په عابدین دے
سیرت ئے شخصی نه دے عالمی دے
ښکاره شوے په کتاب المستبین دے
مقام محمود وعده الله ورسره کړے
په شفاعت کبریٰ باندې مبین دے
سوال کوونکے ترے د جام کوثر څه یم
خپل اُمتی ئے دعاګو نورالامینؔ دے



مسلمان ته

ته روان په لوئے سفر ئے شه تیار
د غفلت په خوب اوده ئے شه بیدار
خوشحالئی ئے چه په مثل سمندر دے
ته د یو څاڅکی په طلب ئے طلبګار
ته ښاوره ئے په ښاوره قربانیږی
عقلمند به همیش مرګ له وی تیار
د مرګ خلګئے ناساپه به شروع شی
خدائے دے نه که څوك ناکامه ګرفتار
لوئے نعمت خو مور او پلار دی که پوهیږ
دُعا واخله په دنیا د مور او پلار
بس یو څو ګزه کپړه به دې کفن شی
که بادشاه ئے که غریب ئے که مالدار
تل صحبت د صالحانو ښه اثر که
رفیق نه شے ته د بدسری په لار
دا د هوکه ده وهرڅیز لره فنا ده
اسیر نه شې د دُنیا په دے بازار
نن خنداګانے خوشحالئی کړے
صبا چاپیر به درنه شی د غم ناتار
چه دنیا پسے طلب کړه سرګردانه
دغه زړه په حقیقت کښن وی بیمار

که الله سره تعلق دے خپل صحیح کړو
بیا غالب به همیشه ئے په اغیار
خپل زړګے د الله مینه باندے رنګ کړه
که شي لکه منصور غوندے په دار
عاقلان دي غافلین په خپل ژوند نه شی
رب ورکړے ورته دا ګهړئی اختیار
چه ئے ځان د خپل خالق مینه کښ روك کړو
اناالحق کړلو منصور غلام په دار
رنړاګانے به په هر لور استقبال کړی
آخرت کښ چه مؤمن باندے شی شمار
لوئے منزل دے ستا په وړاندے ځان خبر که
مسافرو اعلان کیږی وار په وار
دا وعدے ئے حقیقی او دائمی دی
پوخ یقین سره د رب شه تابعدار
که د بو په غلامئی کښ په رښتیا شے
شے به خلاص د غلامئی نه د هزار
په بندګئی کښ د خپل رب شه
دواړه جهانه بیړه کړی به درله پار
که لوئی ورځخه بنائی یو الله دے
انسان بنګته په غرور شی راګزار
څه په نیت او عمل دواړو کښ خالص شه
ضائع کیږی حسنات د ریا کار

قاتل خو د پورا عالم قاتل وی
ته مه شه په صفت کښې د ښامار
بازار نه دے د آزار نه چا موندلے
ځان ساته چرته مظلوم نه شی آزار
سیئات به دې بدل په حسنات کړی
لوے کریم دے او رحیم دے او غفّار
داکانړه، رانده، گونگیان نه دی نو څه دی
چه قرآن ته ئے شا کړے ده په جار
احمقان دی واړه هوښیار نه دی
قارون، شداد، هامان غوند مردار
په چاهت دے د خپل رب که ځان قربان کړو
گوره شے په دواړه جهانه عزت دار
په چاهت دے د خپل نفس که ورقربان شوے
گوره شے به تول عالم کښې خواروزار
نصیحت کړم مسلمان ته وروړ ئے بولم
ځکه څه لیکم ساده باده اشعار
د رحم په چپو کښې به مې انغاړی
څه ېم آمینؔ ئے د لوئے کرم اُمیدوار

الله او مسلمان

دا دروغ دی چه څه ستا یم
په رښتیا کښ د بل چا یم
دنیا ښیګړه نه وی
نو بیا اووائیم چه ستا یم
ټول فکرونه د دنیا دی
آخرت له په جفا یم
بیمار روح له مې غم نشته
روغ صحت له په دُعا یم
د لحد فکر مې نه وی
څه خپل نفس باندے فدا یم
دا منم چه مې دُشمن دے
خو شیطان ته په خندا یم
په باطن کښ مې بل څه وی
چاته نه وائمه چه دا یم
د رب مینه پکښ نشته
زړه ګبر کړے چه د چا یم
د معراج په عبادت کښ
څه خپل مونځ کښ چه په غلا یم
نعمتونه مې ټول هیر دی
د اشنا نه چه نا اشنا یم

څه دعوې د بندګئ کړم
خو طلب کښې د دنیا یم
زلزلې د زنکدن مې
هسې هېرې په خطا یم
نور په وېلو څه پرېږم
خپل نفس ته په ګډا یم
خوشحالو کښې مې ته هېرئ
په ماتم کښې په ژړا یم
معرفت رڼړا مې نشته
آئینه کښې نا صفا یم
د بقا فِکر مې نشته
خپل چاهت کښې د فنا یم
په نظر کښې مې بل سپك وی
هسې ځانته څه پارسا یم
خپل رب له دوا نه شوم
همېش نفس له په دوا یم
دنیا پسې تل کوچ کړم
بے پرواه څه د بقا یم
بادشاهی خودرویشان کړی
څه د دے دنیا بادشاه یم
هسې واړه تماشا ده
بیمار روح له په دُعا یم

آبادی خو د جنّت ده
څه د دنیا په تماشا یم
څه به خوند دزندګئی وی
خپل اشنا نه چه جُدا یم
معرفت د نور مې نشته
د ښاورو بت له په وفا یم
د قرآن دې رنړاګانو
څه مئېن کړے په خُدا یم
څه د خپل خدائے خلیفه یم
څه افضل ېمه اعلی یم
تېرے دی خبر نه شوم
ناروا که په روا یم
ښه او بد تمېز مې نشته
بے ګناه که په ګناه یم
څه آمېنَ د رب په کرم
په اُمېد کښې د صبا یم

د الله شکر

ستا د شکر الفاظ نشته
ربه بل مو کارساز نشته
نعمتونو کښی خروب یو
د بیان څه انداز نشته
ستا د مینې سمندر کښی
انتها له جواز نشته
په اُلفت کښی پنځه وخته
زمونږ مینځ کښی غماز نشته
یا صمد خاضر ناظر ئې
ستا په مثل بے نیاز نشته
نعمتونو دولتونو
معلومات د آغاز نشته
د حبیبؑ په خپل معراج له
بل نشیب او فراز نشته
سلیمانؑ تخت په هوا کښی
عجب داسې پرواز نشته
په دنیا او آخرت کښی
بل آمینؔ له نواز نشته

وکیلانو ته

وروره چه ملګرے ته د غل ډاکو شوکمار نه شے
تل حق وئیل تراخه وی ته خفه په دے ګفتار نه شے
ته خو یو وکیل ئے د وکیل په معنی پوهه ئے
خپل د اعتماد پیټے په سر اوړه بے لار نه شے
محنت کښ برکت دے ستا پیشه یو عبادت دے
تل مرسته د مظلوم کړه د ظالم چه مددګار نه شے
خپل سوچ فکر دې واړه مؤکل د پاره خرچ کړه
الله به دې مدد کړی مخالف نه طمعدار نه شے
نعمت د ذهانت درله درکړے پاك الله دے
ښه سوچ ورباندے ووکه چه ملګرے د اغیار نه شے
ججانو صاحبانو ته کومه دا یو خواست
مدام کوئے انصاف د حق په لاره خطا وار نه شے
مظلوم لره انصاف ورکول هم کار ثواب دے
هیڅرے په تولګی د بے ضمیرو کښ چه شمار نه شے
اشنا مې د بارروم ئې ځه کومه په تا فخر
په نورالامینؔ وروروخدائے د پاره بے اعتبار نه شے

عامر چیمه شهید ته سلام

عامره زار شم ستا مرانے او عظمت ته سلام
سلام سلام واېم په تا ستا صداقت ته سلام
ته یو بهادر وے تا ثابته کړه هېرېږے به نه
په رسالت باندې قربان شوے ستا غیرت ته سلام
اُمت په تا د پاك حبیبؐ به همېش فخر کوی
تا چه ننګ کړے ښه ښکاره دے ستا جرأت ته سلام
اُمبارکي د شهادت په محبّت درلېږم
اے د آمینؔ د زړګی توانه ستا شهادت ته سلام

عامر تیری عظمت کو سلام
تیری حد درجے صداقت کو سلام
تم رسالت پر قربان ہوئے
تمھاری پاک شہادت کو سلام
عالم میں بہادر کہلائے
تیری غیرت و شجاعت کو سلام
فخر ٹھرا تو اُمّتی کے لئے
تیری جرأت و عظمت کو سلام
لمحہ لمحہ تیری شجاعت پر
امینؔ کی محبت کو سلام

اُس محکوم ئے په جهان
اغیار ګیر کړے په زندان
ګیدړان درته زمري شو
ته ئے کړلے په لړزان
نن د غیرو غلامي کړي
په نړئې کښ مسلمان
جرنیل دے که سپاهي دے
دانا جوړ شولو نادان
چه د دین نه ناخبر شي
شي انسان نه جوړ حیوان
چه پرون دے څوك محکوم وو
نن په تا دی حاکمان
پرون خو ستا مالي وو
اُس مالك د ګلستان
آمین د زړه ژړا ده
راشي باغ باندے خزان

وجوهات

ته د یو جسم په شان وې
اُس تېتم په کُل جهان ئے
اے د خدائے د دین پلمبانه
چه د ځان شوے پریشان ئے

د خپل نفس په دام کښې ګیرشوې
ته غافله د قرآن ئې
کل جهان ستا دے هسے پوه شه
ته نن جوړ شوے د جهان ئې
مسلمان ته ئې سخت شوے
په دښمن خپل مهربان ئې
چه به تاپسے روان وو
ته هغوی پسے روان ئې

شهادت به دے آرزو وه
اُس د تش نوم مسلمان ئې
د غفلت په خوب اوده ئې
ته ولقه کښې د شیطان ئې
د بقا سفر دے هیر دے
دا ته څنګه مسلمان ئې
د محشر سختی کړه یاده
عبس ولے په خندان ئې
تل ذلیل او خوار به ګرځې
چه ملګرے د شیطان ئې
خوشحالئی به هله وینے
چه ملګرے د سبحان ئې

جنّتونه به خدائے درکړی
په قدم چه د جانان ئے
صداقت د صدیقؓ خپل کړه
چه پیدا ته مسلمان ئے
ته عادل لکه عمرؓ شه
په نړې به حکمران ئے
هم سخی لکه عثمانؓ شه
چه د هر چا په زبان ئے
شجاعت د علیؓ خپل که
مجاهد مردِ میدان ئے
د خالق شه مخلوق پرېږده
د سلاطینو ته سلطان ئے
شه مالك د صفتونو
چه دا وخت په امتحان ئے
د امینؔ صدا صدا ده
پاسه پاسه ته پاسبان ئے
نصیحت
اغیار واړه دشمنان دی
الله وېلی په قرآن دی
هغه خلق خدائے ته گران دی
چه دنیا کښې مؤمنان دی

چا چه ظلم زیاتی کړے
اخته شوی تل په ځان دی
ګېر نادانه دوستانه کښ
نن ځمونږه جرنېلان دی
نادان دی نه پوهېږی
چه په کوم طرف روان دی
هغه خلق به کامیاب وی
چه نېکئی پله روان دی
د اسلام په دشمنئی کښ
نن یو شوی کافران دی
عیسایان او یهودیان نن
اجل ګېر کړی په مېدان دی
مسلمان په وسائلو
دا ناکامه بدګمان دی
شکستونه مقدر کښ
آمینؔ وائی په زندان دی

یاالله

زمکه ځما ده آسمان ځما دے
که ته ځما ئے جهان ځما دے
بغیر لتانه که محبت کړی
دغه زړګے هم نادان ځما دے
داستا په عشق کښې اوښکے بهیږی
بختور جان مې جانان ځما دے
بے ستا د یاده به څه ژوندون وی
په تعریف ستا کښې زبان ځما دے
ښکلا ښکلائے جانان جانان ئے
دا ستا دیدار مې ارمان ځما دے
ستا پاکی لوئی او قدرتونه
وائی آمینؔ چه سبحان ځما دے



مسلمانانو خویندو ته

نمونه ته د حیا ئے ته عزّت د هر یو کور ئے
د حوا لور ئے وفا ئے ،ته لور، خور ئے خوږه مور ئے
ته مریم ئے، آسیهؓ، هاجرهؓ ئے لوئے دے شان دے
عائشهؓ ئے، فاطمهؓ ئے د جنّت د حورو حور ئے
غېږه ستا یو درسګاه ده آدم‌زاد دے شاګردان دی
ته رحمت د لوئے الله ئے قدردانه په هر لور ئے
ته بے مثله بے نظیره جنتی ښکلے تحفه ئے
هر نظر په تا خوږېږی په رښتیا د سترګو تور ئے
څه دي ژوندون ته حیرانېږم ته مومنه ئے پوهېږ
آفرین دے په ژوندون شه چه د کور ئے یا د ګور ئے
دا اِحسان په تا د رب دے حُسن، مینه محبّت ئے
د حیا څادر په سر وړه څو که زړونو له تکور ئے
ستا عظمت ته مې سلام، ته رڼړا د دے نړئے ئے
ته آمینؔ شاعر را وستے تجبّل ته په خپل زور ئے



آخري ګزارش

څه آخر کښې بو څو اهمے دعاګانے او د قرآن سورتونه لیکمْ چه په احادیثو کښې د هغے په ویئلو سره ډیر فضائل هم راغلی دی او د آخرت په دائمی سفر کښې نجات هم دے او د ګناهونو دمعاف کیدو او د مسلمانانو د خلاصی بیانات دی د آخرت کامیابی بو لویه کامیابی ده چه کوم خوش قسمته مسلمان د الله په رضا سره د آخرت سفر کښې داخل شی نو هغه بو غتے کامیابئی ته اورسیدو۔ ځکه چه د آخرت کامیابئی او خوشحالئی سمندر دے او د هغے مخکښې ددنیا کامیابئي بوڅاڅکے هم نه دے او هم دغه شان د آخرت پریشانئي سمندر دے او د آخرت د پریشانو مقابله کښې د دنیا پریشانئي بو څا څکے هم نه دے الله پاك دي ماله هم د هغے دزده کولو او دروزانه وئیلو توفیق راکړي او تاسو له هم۔ او الله پاك دے په غټ سفر کښې ما هم کامیاب کړي او پوره اُمّت د پاره دُعا ده چه پوره اُمّت دي الله پاك کامیاب کړي او د کائنات تول اِنسانیت ته دے الله پاك هدایت ورکړی۔ (آمین ثمّ آمین)

د آخرت توشه او د خلاصی بیانات لاندے لیکم۔

۱۔ پنځه وخته مونځ

۲۔ د ازان جواب ورکول۔

چه محمدؐ نوم راشي نو ﷺ وئیل۔

او "حي علي الصلوٰة" په اورېدو سرو "لاحول و لاقوه الا بالله العظيم وئېل.

او د ازان په ختمېدو لاندېنئي دُعا وئېل.

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًامَّحْمُوْدَنِ الَّذِیْ وَعَدْتَّه، اِنَّکَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادُ

۳۔ صلوه التسبيح

حضرت عبد الله بن عباسؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ عباس بن عبد المطلب ته وفرمائېل ۔ اے عباس اے ځما تره۔ چه تاته څه د اسے عمل اوښائم چه هغه ته اوکړے نو اللّٰه پاك ستا مخکنی او روستنی چه په خطا شوی وی يا قصداً شوی وی واړه او لوی گناهونه، ښکاره پټ ټول گناهونه معاف کوی هغه عمل څلور رکعته صلوه التسبيح دے۔

۴۔ د رمضان المبارك روژے نېول

حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائی چه څوك د رمضان روژے اونيسی ايمان سره او ثواب او غنيمت ئے اوگڼړی نو د هغه مخکنی او روستنی ټول گناهونه معاف کېږی۔

۵۔ حج چه چاته الله توفیق ورکړي وی

حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائی چه کوم سړی حج اوکړو او د حج په زمانه د فحش او د فسق نه بچ شو نو هغه خپلو گناهونو نه داسے واپس شی څنگه چه هم نن د مور د خېټے نه پیدا شوی وی۔

۶۔ زکوٰة

زکوٰة سره مال صفا کېږی او مال زیاتېږی۔

۷۔ سوره یٰس تلاوت

چه څوك سوره یٰسٓ صرف د الله د رضا د پاره لولی نو د هغه ټول گناهونه معاف کېږی پس دا سورة تاسو په خپلو مړو باندے لولئی۔

۸۔ سوره الم سجده او سوره الملك

دا دواړه سورتونه د عذابِ قبر او د دوزخ د اور نه د خلاصی سبب دے

۹۔ رضیتُ بالله ربا و بالاسلام دینا و بمحمد ﷺ نبیا

رسول اللهﷺ فرمائی چه څوك درے ځله سحر او ماښام دا کلمات وائی نو الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ هغه ته دومره اِنعام ورکړی چه هغه به راضی شی

د پښتنو ورونړو په خدمت کښې یو ضروري ګزارش

دسلام آداب۔

۱۔ سلام کښې مخکښې کېدل پکار دی۔

۲۔ که څوك پېژنئی او که نه ئې پېژنئی سلام اچول پکار دی۔

۳۔ د سلام په جواب کښې وعلیکم السلام وېئل واجب شی نو دا ضروری ده چه د سلام په جواب کښې وعلیکم السلام اووئېلے شی ګنی په ذمه واجب پاتے کېږی مونږه پښتانه د السلام علیکم په جواب کښې پخیر راغلے وایو چه پخیر راغلے سره واجب نه ادا کېږی۔ لهٰذا دا ضروری ده چه د السلام علیکم په جواب مونږ وعلیکم السلام ضرور وایو۔ او د پخیر راغلے رواج ختم کړو مزید معلومات د علماءٌ کرام نه معلوم کړو۔ اللّٰه تعالٰی د ماله هم توفیق راکړې او تاسو له هم۔ آمین ثمّ آمین

دویم ګزارش

د تکبیر اولی اهتمام

تکبیر اولٰی چه کله امام نېت سره اللّٰه اکبر وائی او مقتدی ورسره اللّٰه اکبروائی دے ته تکبیر اولٰی وئېلے شی۔ تکبیر اولٰی دتولے دنیا او څه چه په دنیا کښې دی دتولو نه بهتر دے څمونږه اکثر جماعتونو کښې اقامت ختم شی خو بعضے څمونږ ورونړه آخري صفونو کښې ګپ شپ کښې مبتلا وی۔ او تکبیراولٰی ضائع شي لهٰذا خواست دادے چه ددے نقصان نه ځان بچ کړو او د تکبیراولٰی کښې د امام سره شامېلېږو۔

دریم ګزارش۔

ځمونږه اکثر رونړه په جماعت کښ ګپ شپ لګوی یا څه فیصله وی نو اکثر جماعت کښ کیږی چه دا هم دیره د نقصان خبره ده ځکه چه په جماعت کښ دنیاوی خبرو سره نیکئی داسے سوزی لکه څنګه چه اوچ هشاك په اور سره سوزی لهٰذا مونږ له پکار دی چه خپلے نیکئی د سوزولو نه بچ اوساتو۔

هم دغه رنګے په رمضان المبارك کښ د تراویح په دوران ځمونږه کشران شاته ګپ شب لګوی او امام د قرآن تلاوت کوی۔ دقرآن د تلاوت په دوران کښ هځے هم خاموشه کیدل ضروری دی او بیا په تراویح کښ دشروع نه امام سره شامیلیدل پکار دی چه دا تولے خبرے د الله تعالٰی د رضا سبب دے۔

څلورم ګزارش

ځمونږه اکثر رونړه امام سره په شاته صف کښ د اودریدو کوشش کوی۔ او مخکښ صف ته د تلو کوشش نه کوی۔

کوم قدم چه دصف د پاره اوچتیږی دا قدمونه الله تعالٰی ته محبوب وی

د الله محبت څه معمولی څیز نه دے۔ د الله تعالٰی محبت سره د دوارو جهانو کامیابئی ترلی دی۔ الله تعالٰی دې دا محبت ماته هم نصیب کړې او تاسو ته هم۔ آمین ثمّ آمین

